آصف بهاند
۲۰۱۶/۰۵/۱۸

# د کوم بري له پاره لاړې څاري

په توله شپه کې يو څراغ هم نه شته

په دې لوی ښار کې يوه چيغه تر غوږ نه راځي نن

په توله ورځ کې مې يو سپين وانه وريد

لکه ښه توره يوه شپه بې ستورو

زړه مې يوازې ناست دی

لاړمې مالومه ده، خوپښې مې ستړې

زړه مې ستړی

د پاخه درد د داستانو غمجنې پاڼې

سره اوړي پسې

او زړه مې

په دې غمجن حالت کې

د تير بري

آ پخوانی سندرې

تر شونډو لاندې

زړه په سر کې

په وار وار تکراروي بيا

او دا نمجنې سترګې

د کوم بري له پاره لاړې څاري

*****

دا بې نيتې، بې پتې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ